## مطبوعاتي اعلاميه

## متنفذين او سياسي مشران باید خلک د ډیموکراتیک نظام او دوه پاسپورته چارواکو لپاره د جګړې د لومړۍ کرښې مدافعین ونه ګرځوي

د افغانستان جمهور رييس اشرف غني د ځينو سياسي مشرانو او قومي متنفذينو سره د جمهوريت پر پايښت او دوام ټينګار وکړ او د دولت د وسلوالو مخالفينو د بريدونو پر وړاندې د ولسي پاڅونوالو د انسجام، همغږۍ، پياوړتيا او چټک تجهيز پر سر تفاهم ته رسېدلي دي.
د حزب التحرير- ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر مخلصو قومي متنفذينو او سياسي مشرانو ته خبرادرى ورکوي، چې په دې ويجاړوونکې جګړه کې خلک ښکېل نه کړي او د اوسني وراسته، فاسد او وينه څښونکي نظام د حاکميت د پياوړتيا لپاره د مسلمانو ځوانانو وينې بې ځايه تويې نه کړي.
حاکم ټيم هغه څو پاسپورته فاسد کسان دي، چې د افغانستان د خلکو د شتمنۍ پر غلا بوخت دي او د وضعيت له ترينګلتيا سره غرب ته تېښتي. دغه پوړکی د دې خاورې خلکو ته په هېڅ ارزښت او اهميت نه دي قايل. مګر اوس چې د مرګ او ژوند له برخليک سره لاس او ګرېوان دي او د قدرت ستنې يې لړزېدلي دي، نو مشرانو او متنفذينو ته يې رجوع کړې، څو د دوی د نفوذ په کارولو او په جګړه کې د خلکو په ښکېلولو سره يې فاسد حاکميت څو ورځې نور هم وغځېږي.
اوس د دې وخت را رسېدلی دی چې مخلص سياسي مشران او قومي متنفذين په داسې حال کې چې خلک له هرې خوا کورنيو او بهرنيو فتنو کلابند کړي دي، هوښياري وکړي، خپل اصلي رسالت ته پام وکړي او خپل شرعي تکليف ادا کړي، څو هسې نه چې د پرديو د شومو پلانونو په دام کې ولوېږي او د وينې بهېدو د مخنيوي پر ځای، د جګړې د لمبو په زياتولو کې مرسته وکړي. ځکه د ښکېلاکګرو قدرتونو، د دوی د لاسپوڅو او جاسوسي شبکو اصلي موخه د افغانستان د خلکو وژل او د ګډوډۍ راوستل دي، څو د زياتو وينو په بهولو سره زياته ګټه تر لاسه کړي. نو په داسې ګټوره او وينه بهوونکې سوداګرۍ کې بايد ولسي پاڅونوال ګډون ونه کړي او خلک د لاسپوڅي او فاسد نظام د لومړۍ کرښې مدافعين ونه ګرځول شي. که نه، په جګړه کې د خلکو د ښکېلولو او هڅولو په اړه دغو مشرانو ته دغه آيت لوی خبرداری دی:

**وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا [نساء:93]**

*که چا يو مومن مسلمان قصداً وواژه، نو جهنم به يې سزا وي او د تل لپاره به هلته وي او د الله سبحانه وتعالی په غضب به اخته وي او له خپل رحمت څخه يې لرې کوي او لوی عذاب يې ورته چمتو کړی دی.*

د دې پر ځای حزب التحرير په افغانستان کې د امت مخلصين، دلې، د ځواک او قدرت څښتنان دې ته رابولي؛ څو د خلافت د برخليک ټاکونکې قضيې فرضيت او اهميت درک کړي او پوه شي چې د افغانستان او سيمې د ستونزو حل، د سولې په پروسه او د جګړې په دوام کې نه دی نغښتی، بلکې د خلافت په تاسيس او د اسلام په هر اړخيز تطبيق کې نغښتی دی. نو په دې لاره کې له حزب التحرير سره يو ځای شئ او پوه شئ، چې د الله سبحانه وتعالی د مرستې لاس له هغو لاسونو سره دی چې اسلام اقامه کوي او هغه ته نصرت ورکوي.